# د سوات د متاثرينو د واپسۍ اثار

پښتون رپورټر

د ټيلي وژن په يو پروګرام کښې د اې اين پي صوبائي صدر سېنېټر افراسياب خټک په سوات، دير او بونېر کښې د ډېرو علاقو د کليئر کېدو خبره وکړه. د يو سوال په جواب کښې هغوي ووې چې مونږ د متاثرينو د واپسۍ په پروګرام کښې د بيړې په ځائے د احتياط لار په دې وجه خپله کړې ده چې کومو ځايونو ته دغه متاثرين واپس کېږي نو چې هلته د ژوند ټول سهولتونه لکه بجلي، ګېس وغېره نۀ يواځې موجود وي بلکې د خوراک، څښاک او ژوند د نورو ضرورتونو سامانونه هم موجود وي، کۀ خلق هر څو خپلو کورونو ته ورسي او هلته دوکانونه او بازارونه او هغې ته د مال د رسولو بندوبست نۀ وي شوے نو ژوند به روان پاتې نۀ شي، د دغسې مشکل نه د بچ کېدو دپاره د احتياط سره سره د يو منظم پروګرام لاره اخستل به زياته ضروري وي، هم د دغسې جذبو اظهار وخت په وخت د صوبې د اطلاعاتو وزير ميا افتخار حسېن په خپلو پرېس کانفرنسونو کښې کړے دے، هم دغسې د نهې په ورځ د صوبائي اسمبلۍ په بجټ اجلاس کښې د صوبې وزير اعلي ښاغلي امير حيدرخان هوتي ووې په ملاکنډ ډويژن کښې حالات په تېزۍ سره ښۀ کېږي، دغلته اوس د مياشتو نه بلکې د ورځو په حساب حالات د متاثرينو د واپسې دپاره جوړېدونکي دي او ډېر زر به د واپسۍ عمل شروع کړے شي. وزيراعلي په يقين سره دا خبره وکړه چې د ملاکنډ ډويژن د انفراسټرکچر د بحالۍ دپاره مونږ د طويل او قليل الميعاد لائحه عمل جوړولو په مرحله کښې يُو او ټول په ټوله امور د يوې حکمت عملۍ لاندې د تکميل مرحلې ته د رسولو کوشش کوو لګيا يُو.

وزير اعلي ووې چې مونږ به په ملاکنډ کښې په نظام عدل رېګولېشن عمل درآمد يقيني کوو، د تانو او پوليس فورس تعداد به دوه دونه کوو او د قاضيانو تقرري به هم کولے شي.

هغوي ووې چې په ملاکنډ ډويژن کښې به کميونټي پوليسټنګ فورس هم قائمولے شي چې د فورس تعداد به په وړومبۍ مرحله کښې اووۀ زره وي او تنخوا به ئې لس زره روپۍ وي، هغوي د مرکزي حکومت په شان په صوبه کښې هم د ملازمينو په تنخواګانو کښې د ۲۰ فيصده اضافې اعلان وکړو. ۲۰۰٤ کښې په پنځۀ مرلې مکانونو چې کوم ديارلس کروړه ټېکس جمع شوے ؤ، د هغې د معافۍ اعلان ئې هم وکړو، د غرض خبره دا ده چې د سوات، دير او بونېر په صورت حال او د متاثرينو په واپسۍ او د هغوي په بيا ابادکارۍ د دغو ټولو مشرانو نظر نۀ يواځې يو دے بلکې د هغوي د ژوند او ضرورتونو پوره کېدو کښې د هغوي په پروګرام کښې يوه هم آهنګي هم موجوده ده. انشاءالله هغه وخت هغه مرحله ډېره زر راتلونکې ده چې دغه متاثرين به بيا په خپلو خپلو جونګړو کښې د خپلې خپلې عزيزولۍ سره شريک خوبونه وکړي.